دویم کتاب

اروپايي هېوادونه په ګډه کار کوي

# پناه غوښتنه، د کورنۍ موندل او ورسره یو ځای کېدل



# ښه راغلاست!

## دا کېسه د ځلورو ځوانانو په اړه ده - کټ مټ لکه تاسې.

هغوی له یوه اوږده سفر وروسته په خوندي توګه اروپا ته را رسېدلي دي.
ځینې ځوانان بیا په یوازې توګه راغلي دي. ځینې یې له کورنیو سره راغلي دي.
دوی زیاتې پوښتنې لري – او له دوی سره د هغو خلکو له خوا مرسته کېږي چېرې چې د دوی د اوسېدو په ځای کې کار کوي.

## دا کېسه له تاسې سره هم مرسته کولای شي!

تاسې به زده کړئ:

- پناه غوښتنه، د کورنۍ موندل او انتقال څه معنا لري؟
- د څه تمه باید ولرئ
- دا ولې مهمه ده چې تاسې له افسرانو سره ګډون ولرئ او ورسره کار وکړئ
- څوک تاسو سره مرسته کولای شي؟
- ستاسې د حقونو په اړه

تاسې کولای شئ دا کېسه ولولئ:

- یوازې
- له ملګري سره
- له هغه کس سره چې دلته کار کوي

## فکر پرې وکړه. دا سمه ده چې و یې دروي او وروسته بېرته ورته راشي.

که څه شی درته سخت وي، له چا وغواړه چې درته تشریح یې کړي.
ستا سرپرست، ټولنیز کارکوونکی یا وکیل درسره مرسته کولای شي.

د هغو کسانو لپاره چې تر 18 کلونو کم عمر لري او یوازې راځي، یو سرپرست به ورته وټاکل شي. په ځینو هېوادونو کې، سرپرست ته استازی هم ویل کېږي.


همداراز، په ځینو هېوادونو کې د پناه غوښتنه د نړیوال خوندیتوب غوښتنه بلل کېږي.

## په پای کې به ته ومومې:

- یوه پاڼه له سیمه ییزو معلوماتو سره
- یو تفریحي کوییز
- داسې یو خالي ځای چې خپلې پوښتنې په کښې ولیکې او ګټورې اړیکې په کې اضافه کړې


په پای کې، خبر اوسئ چې ټول خدمات چې د استوګنې په مرکزونو کې درته وړاندې کېږي، وړیا دي. که کوم کارکوونکی له تاسې پیسې وغواړي، له یوه باور وړ افسر یا خپل سرپرست سره خبرې وکړه.

# د دې کیسې
## کرکټرونه وپېژنئ



### محمد

زه 17 کلن یم. زه اکثره وخت خوشحاله یم. زه خوښ یم چې خپلو دوستانو او کورنۍ سره هر وخت چې وکړای شم، مرسته وکړم.
زه څو اونۍ مخکې یوازې راغلی یم او د خپل نیکه په لټه کې یم. زه لېواله یم چې کار پیل کړم.



### احمد

زه 15 کلن یم. زه له خپلې مشرې خور جسمین سره راغلی یم، چې له هغه وخت راهیسې زما پالنه کوي چې زمور مور وفات شوی ده. زه خوښ یم چې له خلکو سره وخت تېر کړم او نوي ملګري پیدا کړم. زه واقعاً غواړم چې ژر تر ژره بېرته ښوونځي ته لاړ شم. اوس مهال، زه دلته سیمه ییزه ژبه زده کوم.




### جسمین

زه 24 کلنه یم. زه یو ځای له خپل ورور، احمد سره راغلی یم، کوم چې تر خپله وسه پورې مې د هغه پالنه کړې ده. مور تازه رارسېدلې یو او هڅه کوو چې له خپل تره سره چې د یو څو وخت لپاره دلته په اروپا کې ژوند کوي، یو ځای شو. له ورزش سره مینه لرم او د فوټبال په لوبه کې ډېر ښه یم.

## ادم



زه 9 کلن یم. زه دلته په خپله راغلی یم. د اوس لپاره ما تصمیم نیولی چې خبرې و نه کړم. دلته تر را رسېدو وړاندې ما ډېرې بدې تجربې ولیدلې. وړاندې تر دې چې خبرې وکړم زه یو څه وخت ته اړتیا لرم. خو زه هوښیار یم او په هر شي باندې پوهیږم. زه خبرو ته ښه غوږ نیسم او غواړم چې بېرته ښوونځي ته ولاړ شم. ټول هغه ملګري مې خوښیږي چې تر اوسه یې لرم.



## اغلې اینس

زه یو سرپرست یم او د ښه راغلاست په دې مرکز کې کار کوم. زه تر خپله وسه پورې هڅه کوم چې له ټولو هغو ماشومانو او ځوانانو سره مرسته وکړم چې د پناه غوښتونکې دي. زما پخلی خوښیږي او ډېر خوشحاله کېږم کله چې وینم هر څوک بوخت او فعالیت لري. ورزش موږ ټول په جسمي او دماغي لحاظ سالم ساتي.



## ښاغلی فرید

زه حقوقي سلاکار یم، کوم چې یو ډول وکالت دی. زه دلته له نورو ډېرو ښو روزل شوو همکارانو سره په ګډه کار کوم.
زه ټولو پناه غوښتونکو ته د قانوني موضوعاتو او د دوی د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو په اړه معلومات او ملاتړ ورکوم. زما خوښیږي چې رنګارنګ پیغاملرونکي ټي شرټونه واغوندم.

د زړه له کومې مننه له ټولو هغو ځوانو پناه غوښتونکو څخه چې دا کېسه يې له خپرېدو مخکې ولوستله او په ښکلې توګه يې د دې په بشپړولو کې مرسته وکړه.

هغوی د اصلي کرکټرونو د نومونو په ټاکلو کې هم مرسته وکړه.

مننه همداراز د مالتا او هالند له چارواکو څخه چې له تنکيو ځوانانو سره د بحثونو ملاتړ يې وکړ.


ماسپښین مو پخیر، ښاغلی فرید! موږ دلته راغلي یو څو پوښتنې وکړو...
البته، راشئ!
نن موږ وغوښتل پوه شو چې ولې کله موږ دلته را ورسېدو نو زموږ انځورونه او د ګوتو نښې واخیستل شوې؟
ښه پوښتنه!
کله چې څوک اروپا ته بې له پاسپورټ یا ویزې راشي، افسران به ترې د نوم، عمر او هغه هېواد چې دوی ترې راغلي دي،پوښتنه وکړي.
که ته له 6 کلونو څخه لوی یې، نو دوی به ستا انځور هم اخلي...
...او ستا د ګوتو نښې هم.
انځورونه او د ګوتو نښې، چې بایومتریک معلومات هم ورته ویل کېږي، په داسې کمپیوټري سیستم کې داخلېږي چې اروپا ته د راتلونکو خلکو ټول معلومات پکې وي.
دا د پناه غوښتنې چارواکو سره په ټولو اروپايي هېوادونو کې مرسته کوي چې ستا معلومات پیدا کړي.
نو، زما انځور او د ګوتو نښې هغوی سره مرسته کوي چې وروسته مې وپېژني؟


هو!
د معلومات چارواکو سره مرسته کوي چې معلومه کړي څوک، کله او چیرته را رسېدلي و ، د سفر دلیل یې څه دی او ایا دا کس مخکې هم اروپا ته راغلی و که نه.
ایا دا حیرانوونکې نه ده چې د ټولې نړۍ هېڅ بل کس ستا د ګوتو په څېر نښې نه لري؟
هو! د ګوتو نښې ځانګړې وي او هماغسې پاتې کېږي، آن که زاړه هم شو...
ښاغلی فرید، کله چې زما انځور او د ګوتو نښې د کمپیوټر په سیستم کې داخل شي، نو ایا زما د اصلي هېواد حکومت دا معلومات پیدا کولای شي؟
نه، دا معلومات محرم ساتل کېږي او ستا د اصلي هیواد له حکومت سره نه شریکېږي. تل له افسرانو سره همکاري وکړه او اجازه ورکړه چې ستا انځور او د ګوتو نښې واخلي. که ته انکار وکړې، نو ستا کار به ځنډېدونکی شي یا کېدای شي دوی داسې وانګېرې چې ته نور د پناه غوښتنه نه کوې.
ستا انځور او د ګوتو نښې دا مرسته هم کولای شي چې که ته دلته کومه کورنۍ لرې، هغوی به پیدا شي. دا کار دا هم ښیي چې ایا ته مخکې د پناه غوښتنې یا د امنیتي دلایلو لپاره ثبت شوی یې که نه.


هر ځوک چې راورسي او غواړي د پناه غوښتنه وکړي، باید دا کار په هغه لومړي هیواد کې وکړي چې هلته رارسېدلی وي. دا ډېره مهمه ده چې په هغه هیواد کې پاتې شې چېرې چې ثبت شوی یې.
ځینې غوښتونکي هڅه کوي چې پرته له دې چې چارواکي خبر شي، بل ځای ته لاړ شي.
زه هم. ما غوښتل چې خپل نیکه ومومم. زه د سفر په جریان کې له هغه څخه بېل شوم. ځا چې زه تر 18 کلنۍ ټیټ عمر لرم، نو زه یو سرپرست لرم چې ما سره مرسته کوي. مشوره را کوي چې دلته پاتې شم او مرسته تر لاسه کړم.
دلته داسې موسسې شته چې کولای شي زما نیکه په خوندي ډول پیدا کړي، پرته له دې چې زه یوازې مخکې لاړ شم.
همداراز، که زه لاړ شم، نو خطر شته چې په بل هیواد کې ځینې خدمتونه او ملاتړ له لاسه ورکړم.
بالکل! ستا سرپرست تل ستا د خیر غوښتونکی وي. هغه له چارواکو سره یو ځای هڅه کوي چې ډاډ ترلاسه کړي چې یوازې راغلي ماشومان خوندي وي.



که ته بل هېواد ته لاړ شې او هلته د پناه غوښتنه وکړې، چې دا هغه هېواد نه وي چې ته لومړی ورته ورغلی وې او ستا مسوولیت یې پر غاړه و، نو د هغه ځای چارواکي به تا بېرته دلته راولېږي. تاسو د دې پرېکړې په وړاندې د استیناف یا اپیل غوښتنه کولای شئ.
استیناف څه شی دی؟
د استیناف غوښتل یعني ته ورسره موافق نه یې. تاسې باید دا تشریح کړې چې ولې ورسره موافق نه یاست. ستاسې سرپرست او وکیل کولای شي تاسې ته په دې برخه کې مشوره درکړي.
د بېرته استولو نه د مخنیوي دلایل څه دي؟
که ته په هغه هېوادکې کورنۍ لرې چې ته ورته تللی یې، یا داسې جدي روغتیایي ستونزه لرې چې باید هغه درملنه دوام ومومي کوم چې پیل کړې مو ده...
زه پوه شوم...
عموماً، ته باید هلته پاتې شې چېرته چې لومړی راغلی یې، د پناه غوښتنه دې کړې او هلته ثبت شوی یې. دا کار ستا لپاره او د چارواکو لپاره اسانتیا رامنځته کوي.



...خو انتظار کول سخت وي... ځینې وختونه هغه خلک چې مورِ سره یې دي ځای ته راتلو کې مرسته کړې، مورِ ته وایي چې ژر لاړ شو.
امم... هغه کسان چې دا وړاندیزونه کوي، ښایي ښه نیت ونه لري.
مخکې له دې چې بل هیواد ته د تګ په څېر لوی تصمیم ونیسې، نو تل له داسې چا سره خبرې وکړه چې دلته کار کوي او ته پرې باور لرې.
د انتظار پر مهال، کله چې ته خپه یې، بوخت پاتې کېدل یا له کورنۍ او دوستانو سره خبرې کول هم مرسته کولای شي.
خپلې زده کړې ته دوام ورکړه....
... ورزش وکړه...
... تفریح وکړه!
یو ماشوم هېڅکله نه باید خپل بکس واخلي او ولاړ شي. یوازې سفر کول خطرناک کېدای شي.


درسره منم. ما له خپل سرپرست سره یو ځای، له هغې اداري سره اړیکه ونیوله چې د کورنۍ غړي سره یو ځای کوي.
د کورنۍ لټون ته د کورنۍ موندنه ویل کېږي. د کورنۍ یو ځای کېدو ته د کورنۍ بیا یو ځای کېدل ویل کېږي.
کله چې مور د کورنۍ یادونه کوو، چارواکي عموماً نږدې کورنۍ ته پام کوي، لکه مور، پلار، ورونه، خویندې، نیکه، انا، تره، ترور، ماما او خاله.
... هغوی به د هغوی نومونه وپوښتي، چیرته او کله دې وروستی ځل لیدلي، که ته پوهېږې چې هغوی چیرته دي، او داسې نور...
دوی ته د کورنۍ د موندلو لپاره کوم معلومات په کار دي؟



ستا ځوابونه د کورنۍ د موندنې په یوه فورمه کې لیکل کېږي، چې ستا سرپرست به د هغه په ډکولو کې در سره مرسته وکړي. هغه اداره چې د کورنۍ د موندنې مرسته کوي، که یې هغوی پیدا کړل نو تا ته به خبر درکړي.
که ته، ستا کورنۍ او ستا سرپرست ټول موافق وي، نو ته به د چارواکو په مرسته له خپلې کورنۍ سره یو ځای شې. که ته نه غواړې له خپلې کورنۍ سره یو ځای شې، نو مخالفت کولای شې.
ولې به څوک ورسره مخالفت کوي؟
کېدای شي یو د کورنۍ غړی خښن ډک وي. چارواکي باید تل دا په پام کې ونیسي چې ستا لپاره څه غوره او خوندي دي.
پوه شوم. امم... دا د کورنۍ د موندلو فورمه ډکول سخت دي؟
نه، که ته اړین اسناد ولرې، لکه د زیږون سند یا د هغه انځور، چې د کورنۍ اړیکې ثابت کړي. دا اسناد باید ژر تر ژره له چارواکو سره شریک شي.
نو، ماشوم باید اسناد برابر کړي؟
هو. په نادرو مواردو کې، ځینې هیوادونه د طبي معایناتو غوښتنه کوي، لکه د وینې یا لاړې (لعاب) نمونه، تر څو معلومه کړي چې ایا تاسو په رښتیا خپل منځ کې خپلوي لرئ که نه.



ستا لاړې (saliva) ډېر معلومات لري. ته کولای شې انتخاب وکړې چې دا ازموینه ورکول غواړې که نه. د مشورو لپاره له خپل سرپرست سره خبرې وکړه.
خبر اوسئ: که چارواکي د کورنۍ اړیکې شکمن وګڼي یا کافي معلومات ونه لري، نو کېدای شي د بیا یو ځای کېدو اجازه ورنه کړي. البته، ته کولای شې د داسې پرېکړې پر وړاندې استیناف وکړې.
ښاغلی فرید، له کورنۍ سره یو ځای کېدل معمولاً څومره وخت نیسي؟
وخت توپیر لري. ته باید صبر ولرې. ستا سرپرست به تا ته تازه معلومات درکوي.
بوخت پاتې شه، د سیمه ییزې ژبې زده کړه وکړه او له خپل سرپرست څخه د هغو فعالیتونو پوښتنه وکړه چې ته په کې ګډون کولای شې.
ځینې وختونه زه اندېښنه لرم چې خلک فکر کوي زه احمق یم چې دا ټولې پوښتنې کوم.


دا چې ته نور معلومات غواړي، دا ښيي چې ته له
چارواکو سره د همکارۍ اراده لرې.
زه ډېري پوښتني کوم. ايا ته
فکر کوې چې زه احمق يم؟
يقيناً نه!
يادښتونه
اوس زه غواړم له تاسو ټولو سره د انتقال په
اړه يو کوچنی پوښتنليک ترسره کړم، ځکه
ځيني وختونه چاروا کي غوښتونکي نورو
اروپايي هيوادونو ته انتقالوي...
ډېر ښه!
خپلې پوښتني او هغه معلومات چې تر اوسه
دي ټرلاسه کړي، وليکه.


1 پوښتنه
د هغه وضعیت په اړه را ته ووایه چېرې چې چارواکي کېدای شي غوښتونکي انتقال یا ځای پر ځای کړي.
کله چې په ورته وخت کې زیات شمېر خلک دلته رارسیږي او له هغوی سره د مرستې لپاره په کافي اندازه ځای یا کارکوونکي نه وي.
صحيٌ!
جسمین - 1
2 پوښتنه
کله چې خلک انتقالیږي، ایا هغوی کولای شي هېواد انتخاب کړي؟
نه، دا کار چارواکي انتخابوي. خو هغوی باید دا په پام کې ونیسي چې د ماشومانو لپاره څه غوره دي. له همدې امله، دا مهمه ده چې ژر تر ژره چارواکو ته خبر ورکړئ که تاسو په اروپا کې کورنۍ لرئ او غواړئ له هغوی سره یو ځای شئ.
صحيٌ!
جسمین - 1
محمد - 1
3 پوښتنه
که یو کس د انتقال پرېکړې سره موافق نه وي، نو څه؟
تاسې کولای شئ استیناف وکړئ، یعنې دا چې تاسې خپل مخالفت ښکاره کوئ!
جسمین - 1
محمد - 2
صحيٌ!

## 4 پوښتنه

ایا کولای شي د استناف غوښتلو لپاره وخت ولري؟



# مهم

**په دغه هېواد کې ...**

هغه اداره چې دا پرېکړه کوي چې کوم هیواد ستا د پناه غوښتنې مسؤلیت لري، نوم يې دی:
__________________________________________________________________

د دې لپاره چې له خپل سرپرست سره ووینم او خبرې وکړم، زه کولای شم اړیکه ونیسم له: ______________________________
__________________________________________________________________

زه کولای شم له یوه حقوقي سلاکار سره وړیا اړیکه ونیسم، تر څو د پناه غوښتنې د پروسې په اړه نور معلومات ترلاسه کړم، یا که زه غواړم د چاراواکو د پرېکړې پر ضد استیناف وکړم، ملاتړ ترلاسه کړم.

د پناه غوښتنې د پروسې یا د استیناف د څرنګوالي په اړه د مشورې لپاره، زه کولای شم اړیکه ونیسم له: ________________
__________________________________________________________________

که دلته څوک، لکه افسران، حقوقي سلاکاران، ټولنیز کارکوونکي یا زما سرپرست، له ما سره بد چلند وکړي، زه کولای شم شکایت وکړم او اړیکه ونیسم له: ______________________________________________
__________________________________________________________________

د بېړني حالت په صورت کې، زه کولای شم له امبولانس سره په دغه شمېره اړیکه ونیسم ______________________________
یا له پولیسو سره په دغه شمېره ______________________________________________

هغه چارواکي چې مسؤلیت لري چې زه یو خوندي ځای ولرم چېرته چې ویده شم، چې دې ته ریسپشن ویل کېږي، نوم یې دی: ______________________________________________

هغه خدمتونه چېرې چې زه اوسم او هلته چمتو کېږي، وړیا دي. که یو کارکوونکی له ما څخه د پیسو غوښتنه وکړي، زه کولای شم له لاندې لارې خپل شکایت وکړم: ______________________________________________
__________________________________________________________________

# مهم

**په دغه هېواد کې ...**

هغه موسسه (موسسې) چې کولای شي ما سره زما د کورنۍ د غړو په موندلو کې مرسته وکړي نوم يې دی: ______________

___

___

___

هغه موسسه چې مسووليت لري تر څو له ما سره مرسته وکړي او ما له کورنۍ سره يو ځای کړي،که چېرې دا کار زما په خير وي، د هغې نوم دی:

___

___

___

نور مهم معلومات: ______________

___

___

___

___

# کوییز

**زه د پناه غوښتنې د پروسیجر په اړه څېله پوهه ګورم!**

☑ سم ځواب په نښه کړئ.

1 ولې ځاروکي زما انځور او د ګوتو نښې اخلي او دا معلومات په کمپیوټري سیستم کې داخلوي؟

○ ا. تر څو پوه شي زه څوک یم، کله او چیرته راغلی یم.

○ ب. تر څو زما ښایسته ګوتې له نږدې وګوري.

2 ځاروکي ګوري چې ایا زه له هغه کس سره ریښتیني اړیکه لرم که نه، مخکې له دې چې له هغه سره یو ځای شم، باید ډاډ ترلاسه شي چې زه خوندي یم.

○ الف. سم

○ ب. ناسم

3 مهمه نه ده چې زه څه غواړم، که زه په اروپایي ټولنه (EU) کې کورنۍ ولرم نو ځاروکي به اخیر ما له خپلې کورنۍ سره یو ځای کوي.

○ ا. سمه ده

○ ب. ناسم (ځاروکي به تل ما ته غوږ ونیسي او سرپرست به زما د اوسني وضعیت له مخې ما ته تر ټولو غوره حل لارې ومومي.)

4 زه هر وخت کولای شم پرته له ستونزې بل هیواد ته ولاړ شم.

○ ا. سمه ده

○ ب. ناسم (دا غوره ده چې لومړی له خپل سرپرست سره خبرې وکړم تر څو د دې کار اړوند عواقبو او بالقوه خطرونو په اړه پوه شم.)

5 هغه لومړی هیواد چې ما پکې د پناه غوښتنه کړې او ثبت شوی یم، عموماً هماغه هیواد د پناه غوښتنې مسؤلیت لري.

○ الف. سم

○ ب. ناسم

## د کوییز ځوابونه

پوښتنه 1: ا؛ پوښتنه 2: ا؛ پوښتنه 3: ب؛ پوښتنه 4: ب؛ پوښتنه 5: ا.

# یادداشت‌ها

# یادښتونه

PASHTO

دا کتابچه یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله هېڅ ډول حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې اداري (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې کتابچې بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هیوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هیوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ له خوا په دې کتابچه کې د شاملو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باوری توب لپاره هېڅ مسوولیت یا تضمین نه منل کېږي. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب کوم کس په دې کتابچه کې د شاملو معلوماتو د کاروني مسوولیت پر غاړه نه لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025

